پوهاند محمد بشیر دودیال ۲۰۱۹/۱۲/۱۸

# مهاجر، دمهاجرت قوانین، د مهاجر منل او د مهاجرت ستونزې
## (دلیندۍ ۲۷مه- د ډسمبر ۱۸مه د مهاجرت نړیواله ورځ)

مهاجر(Migrant) هغه څوک دی چې د یوه عامل له مخې له خپل اصلي ټاټوبي څخه بل ځای ته؛ یا په دایمی یا موقتی ډول، یابه د هیوا دننه له یوې سیمې بلې یا به بیخی له هیواد بهر تللی او بیځایه شوی وي. دغه عامل کیدای شي، جنګونه، وچکالي، سیاسی فشار او نور وي، نوځکه دمهاجرت (Migration) بیلابیل ډولونه شته، لکه اقتصادی، سیاسی، داخلی او بهرته مهاجر او داسي نور. نړیوالو ددغي ستونزې او ټولنیزې ښکارندې د ارزښت له امله د دسمبر ۱۸مه ورځ د مهاجرت د ورځې په نوم نومولې ده. څرنګه چې افغانستان په دې وروستیو کې دهغو هیوادو په لړ کې شمیرل کیږی، چې زیات شمیر مهاجرلري، نو ځکه په دې اړه په یو- څو ټکیو بحث کوو:

مهاجرت د دیموګرافي او د نفوسو د مطالعاتو له پلوه د وګړو یو ډول حرکت دی. د نفوسو حرکات په دري بر خو کې مطالعه کیږي: تولدات، وفیات او مهاجرتونه.

مهاجرت له یوې سیمي یا هیواد څخه دوګړو وتل دي چې بلي سیمي یا هیواد ته کډه کوي او هلته میشت کیږي. که وګړي د خپل هیواد دننه له یوې سیمي بلې ته ولاړ شي ورته کورنی مهاجر او که له هیواد څخه بهر ووځي، ورته خارجي مهارت ویل کیږي، که مهاجر بهرته ولاړشي ورته (emigration) او که بهر څخه هیواد ته راغلي وي ورته (immigration) وایي. د refuge/refugee اصطلاحات هم ورته کارول کیږي. د شلمي پیړی په وروستیو کې له پرمختیایي هیوادو څخه پر مختللو هیوادو ته مهاجرتونو زیات شول. دبیلګې په توګه په اروپایي هیوادو کې په ۱۹۹۸م. کال کې په سلو کې پنځه نوی زیږیدلي ماشومان له بهر څخه د راغلیو کورنیو وو او د امریکې متحده ایالاتو کې دغه رقم په سلو کې لس و. دغه مهاجر که له یوې خوا پرمختللو هیوادوته د کار ځواک برابر وي، له بلې خوا دوی ته څه ستونزې هم جوړولای شي، خو پایله یې پرمختیایی هیوادو ته ځکه ښه نه ده چې دوی ممکن بهرنی هیواد څخه خپله د کار ګټه په یوه نه، په یوه بنه خپل اصلي هیواد ته راواستوي، خو ترګټې یې زیان زیات دی. هغه مهاجر چې د بیکاری او اقتصادي ستونزو له امله نورو هیوادو ته ځي، هغو ته اقتصادي مهاجرین، هغه چې د امنیتي ستونزو او جګړو له امله ځي، جبري مهاجر، هغوی چې په خپله خوښه بهر ته مهاجر کیږي، اختیاري مهاجر او هغه چې د سیاسي عواملو له امله وځي سیاسي مهاجر بلل کیږي. له اوسنیو پرمختیایي هیوادو څخه تللي مهاجرین زیاتره د دوولومړیو کټګوریو څخه دي او دا د اوسني وخت یوه بده ستونزه او مسئله ده، نوځکه ملګرو ملتونو ددغه ډول مسایلو لپاره یو جلا اداره جوړه کړی چې د (UNHCR) یاد مهاجرینو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري نومیږی، چې د مهاجرو د ساتنې او څارنې چارې پرمخ بیایي. دغه اداره ډیر واک نه لري، خو له حکومتونو سره د ګډ کار لپاره اړیکې ساتي، کله چې حکومتونه د مهاجرو په هکله کوم قانون ونه لري او پناه اخیستونکی، بې کوره شوي خلک او مهاجرین مرستو ته اړتیا ولري، نو UNHCR دېنا غوښتونکي غوښتنې تر کتنې لاندې نیسي، کله چې وران ونکي جګړې پیل کیږي، او ډیر خلک له خپلو سیمو څخه تښتي، دغه سازمان ورته زیاتره وختونه کمپونه جوړوي او هلته خلک ځای پرځای کوي (لکه په

افغانستان کې د نويمي لمريزې لسيزې غميزه). د غه سازمان ورته خيمې، روغتيايي چارې، خوراکي توکي برابروي، د مهاجرو او پناه غوښتونکو او بې کوره شويو خلکو په چارو کې دحکومتونو په تدابيرو څارنه کوي او دبې ځايه شويو خلکو څارنه هم کوي، خو نن ورځ له نيکه مرغه تقريباً ټول هېوادونه د مهاجرت په اړوند قوانين لري. دغه قوانين له يوه هېواد څخه تربل پورې لړتوپير لري.

يو شمېر هېوادونه مهاجرو ته ددې اجازه نه ورکوي چې له يوه کار فرما سره تر کار کولو وروسته بل کار فرما ته ورشي او خپل شُغل او کار بدل کړي، يو شمېر هېوادونه آن مهاجرو ته د دې اجازه هم نه ورکوي چې له يوه ښار څخه بل ته ولاړ شي. ګڼ شمېر مهاجر کار ګران، ددغو قوانينو په هکله پوهه نه لري او له هغو څخه تېرى کوي، دوى په معمول ډول کومې ستونزې سره نه مخامخ کيږي، خو که پوليس يې ونيسي، ممکن له کوربه هېواد څخه وايستل شي، ځينې وخت ممکن بندي يا ممکن جريمه شي او يا هم له بند څخه دخلاصيدو په خاطر ډېرې پيسې له لاسه ورکړي. دغه ډول وګړى ته پناغوښتونکى ويل کيږى.

**Asylum seeker يا پناه غوښتونکى** هغه څوک دى چې د يوه معقول دليل له مخې له خپل اصلي ټاټوبى څخه د خپل هيواد دننه يا بهر بل هيواد ته په موقت يا دايمى ډول بيځايه شى. کله چې نوموړى نوى ځاى ته د تلو او هلته د ميشت کيدو غوښتنه وکړى، نو پنا غوښتونکى بلل کيږى. حکومتونه هغه مهال دپناه ورکولو پرېکړه کوي، چې مهاجر حقيقت ويلي وي چې په يوه بل هېواد کې واوسېږي او دغه ډول مهاجر د پناه اخيستونکي په توګه منل کېداى شي. کله چې يو مهاجر د پناه اخيستونکي په توګه منل کېږي، دغه مهاجر ته په پيل کې د کار اجازه نه ورکول کېږي، د مسافرت حق نه لري او د اتباعو ډېر لږ حقوق لري، خو کله چې قانوني مراحل بشپړ شي او حقايق روښانه شي، بيا نو له يو شمېر حقوقو څخه برخمن کېداى شي.

**Asylum case د پنا غوښتونکي دوسيه :**

کله چې يو مهاجر دپناه اخيستونکي غوښتنليک سپاري، بايد مربوطه مقاماتو ته قانع کوونکي دلايل ووايي، يعني ثابته کړي چې ولې يې دپناه اخيستو غوښتنلک ورکړى دى، دوى بايد دا څرګنده کړي چې له چا او څه شي څخه ويريږي، او د خپلې ادعا د ثبوت لپاره بايد شواهد او سند وړاندې کړي. معمولاً مهاجرين داسې فکر کوي، چې که چېرې څه اسناد ولري او وايي چې ددغو اسنادو له مخې يې ژوند په خطر کې دى، نو منل کيږي، خو دا دومره ساده نه ده لکه چې دوى يې فکر کوي، کله چې دوى د کيس يا دوسيې خبره کوي، نو معنا يې داده، چې لازم راپورونه او شواهد بايد له ځان سره لري، نو بيا يې پنا اخيستلو باندې غور کيږى.

**پنا اخيستل يا( Asylum ) يعني څه؟**

يو شمېر حکومتونه د ملاتړ کولو او حمايت پروګرامونه لري چې مهاجرو ته يې برابروي په تېره بيا هغو کسانو ته چې ځانونه يې په خطر کې وي يا په ډېرو بدوشرايطو کې ژوند کوي، يعني حکومت د مهاجرو حقوق په رسميت پيژني او مهاجرو ته له پينځو څخه تر لسو کالو پورې د پاتې کېدو جوازورکوي (البته بېلابېل هېوادونه مختلف قوانين لري) ترڅو کوربه هېواد کې ژوند وکړي او دوى ته يو شمېر امتيازات او حقوق ورکوي، د هغه چا لپاره چې دپناه اخيستو هيله کوي، کومه ويزه نشته، دوى بايد د مهاجرو په کمپونو کې انتظار وکړي، ترڅو پرته له ويزې څخه مسافرت وکړي، يا دا چې په جعلي ويزه باندې ورځي او داسې ښيي چې د ګرځندوى يا محصل په توګه راغلى دى، څومره چې ژر اقدام وشي، هغومره ژر حکومت دپناه ورکولو درخواست مني. پناه هغه چاته ورکول کيږي، چې خپل ټاټوبي کې يې ژوند ته ګواښ وي، که چېرې دا ثابته شي چې دوى له خپل هېواد څخه د ښه ژوند کولو په موخه وتلي دي، نو پناه نه ورکوي. مهاجر هماغه لومړني هېواد ته چې دوى وررسېږي، د پناه اخيستو غوښتنليک ورکوي. معمولاً مهاجر نشي کولاى چې خپله ځانته کوربه هېواد غوره کړي که دوى په لومړي ځل داسې يوه هېواد ته ورشي چې امنيت ولري (لکه ايتاليا يا فرانسه) او بيا وروسته له هغه څخه کوم بل هېواد، لکه ناروې يا المان

ته ورشي، نو دغه هېوادونه هڅه کوي چې دغه مهاجر بېرته خپل ټاټوبی ته راستون کړي، مهاجر باید له شپږو څخه تر اتو میاشتو پورې بې له کومې مرستې په تمه پاتې شي، ترڅو د هغو پرېکړه معلومه شي.

### Assisted Voluntary Return د اوطلبانه راستنېدل

که چېرې مهاجر او بې کوره شوي وګړي ونشي کولای چې یوه بهرني هېواد کې ژوند وکړي (له دې امله چې کوربه هېواد غواړي دوی بېرته خپل هېواد ته ورستانه کړي یا دا چې مهاجر هلته ځانته ښه کار پیدا کړی نه وي)، نوغواړي چې بېرته خپل هېواد ته ستون شي، دغه ډول داوطلبان کولای شي چې له کوربه هېواد څخه یا د مهاجرت له نړیوال سازمان څخه دمرستې غوښتنه وکړي، ممکن دوی د ده د بېرته ستنېدو په خاطر نوموړی ته د ټکټ لګښت ورکړي، یا ممکن هیڅ لګښت ورنه کړي. ځینې وخت مهاجرینو ته د مهارتونو د زده کړې شپږ میاشتنی حرفوي کورسونه دایرېږي، ترڅو خپل هېواد ته ترستنېدا وروسته ځانته یو کوچنی کاروبار پیل کړي.

### Deportation/ forced Return اخراج ، جبري راستنول

ډیپورټ له یوه هېواد څخه د مهاجر ایستل دي. دا وضعیت هغه مهال پېښېږي، چې یو څوک له کوربه هېواد څخه وتلو ته اړ شي، کله چې د کور به هېواد حکومت ډاډه نه وي او باور ونه کړي چې د مهاجر ژوند په خطر کې دی، نو داوسیدو اجازه نه ورکوي، یا هم که چېرې مهاجر هلته کوم جرم ترسره کړي او د تابعیت حالت یې هم لا معلوم نه وي، نو په داسې حالت کې که مهاجر د راتلونکې لپاره خپل د پنا هندګی غوښتنلیک ورکړی وي، هغه هم ایستل کېدای شي، آن دا چې که د غه ډول کسان له یوه هېواد څخه بل ته ځي هم ایستل کېدای شي.

### Detention نیول کېدل

د قانونی اسنادو د نه لرونکو اشخاصو بالفعل ګرفتاری ته ویل کېږي، چې کټ مټ لکه د بندي کېدو په شان دي. هغه څوک نیول کېږي، چې غواړي پرته له اسنادو او بې له اجازې څخه یوه هېواد ته ننوځي، یا هغه څوک چې د اوسېدو لپاره یې غوښتنلیک ورکړی وي، خو منل شوی نه وي، نو په دې ډول حالت کې پولیس دوی نیسی.

### Dublin convention د مهاجرو په هکله دوبلین کنوانسیون

د مهاجرو په هکله د غه کنوانسیون یوقانون جوړکړ. دغه قانون لیکي: هر هغه څوک چې لومړني اروپايي هېواد ته ننوت، باید دپناه اخیستو غوښتنلیک ورکړي، که د اروپا بل غړي هېواد ته ننوت، لومړني هېواد ته به ولېږل شي.یو شمېر اروپايي هېوادونه ددغه ډول مهاجرو لپاره پوره ځای نه لري، نو ځکه دغه ډول مهاجرین اړ کېږي، چې یا په پارکونو کې یا په سړکونو ویده شي.

### Family reunion کورنی سره یوځای کېدل

هغه کسان چې د اورېدې مودې لپاره د پاتې کېدو ویزه لري، یا مهاجر دي، د د دوی د کورنی غړي کولای شي ورسره یوځای شي، که چېرې یو څوک د مهاجر په توګه وپېژندل شو، نودا حق لري چې خپله مېرمن او تر ۱۸ کلنی پورې اولادونه ځانته وغواړي، په ځانګړو شرایطو کې پلار، مور، ورور، خور، وراره او خور یې هم راوستلای شي، خو دوی هغه وخت کولا شي، پرته له دغو خپلوانو کوم بل څوک هم راولي، چې خپل هېواد کې کوم بل خپلوان ونه لري، چې د دوی ساتنه وکړي، ډېر زاړه یاد ډېر ځوان خپلوان هم دې ډله کې راتلای شي. دهغو مهاجرو د کورنی لپاره چې نوي راځي کوربه حکومت مرسته کوي، خو مهاجر باید د ټکټ او نور لګښت په خپله ورکړي. که مهاجر نه وي، خو د اورېدې مودې لپاره د اوسېدلو اجازه لري، کولای شي خپله مېرمن، کوژدنه یا هم خپل اولادونه ځان سره راولي، البته دا هغه وخت کېدای شي چې لوی کور او پوره اندازه معاش ولري، بهرني حکومتونه هغو کډوالو ته چې پوره معاش نه لري اجازه نه ورکوي چې خپلې کورنی ځان سره راولي، که چېرې داسې کسان وي چې د لنډې مودې ویزه لري. مثلاً یو کلنه ویزه ولري یا د اوسېدو هیڅ اجازه ونه لري د وی نشي کولای

چي د خپلي کورنی غړي راوغواړي، که د چا په اروپايي هېوادو کي خپلوان وي او ده د پناه هندګی غوښتنلک ورکړی وي، نو هغه کولای شي چي د اسي يوه هېواد ته ولاړ شي چي د کورنی غړي يي هلته وي، خو معمولاً اروپايي هېوادونه دغه ډول غوښتنليکونه نه مني.

### کوربه کورنی Foster Family

په دي وروستيو کي ګڼ شمېر ستونزو ماشومان هم کډوالي او مهاجرت ته اړ کړي که يو ماشوم چي ١٦ کلنی څخه کم عُمر ولري او په يوازيتوب ځان اروپا يا استرليا ته ورسوي، ممکن هغه داسي يوه ځای ته بوتلل شي، چي هلته د کوربه هېواد له کورنيو سره يوځای ژوند وکړي، حکومت هغه کورنيو ته يوه اندازه پيسي ورکوي چي دغه ډول ماشومان ساتي، ځئني وخت له ١٦ کلنی څخه د ټيټ عمر لرونکي ماشوم سر پرستي او ساتنه په تجارت بدليږي، هغه کورنی چي ددغه ډول ماشومانو د ساتني مسؤليت په غاړه اخلي، له هغه سره ناوړه چلند کوي، خو له حکومت څخه پيسي اخلي. ځيني وخت هغه کورنی چي دغه ډول ماشومان د روزني لپاره اخلي، دی ته (کوربه کورنی) ويل کيږي.

### ناقانونه مهاجر Irregular Migrant

هغه کسان چي پرته له ويزي مهاجرت کوي، يا په ټول عمر پرته له ويزي او اجازي بل هېواد کي اوسيږي، سند او پاسپورټ ونه لري غير قانوني مهاجر بلل کيږي، ځني وخت دغه ډول مهاجرو ته پټ يا مستند شوي مهاجر هم وايي.

### کارګر مهاجرLabor migrant

هغه کسان چي د کار لپاره نورو هېوادو ته ځي، يوشمېر هېوادونه چي کار ته اړتيا لري، کارګرو مهاجرو ته ويزه او د کار جواز ورکوي، د خليج يو شمېر هېوادونه هر ډول کارګرو مهاجرو ته اړتيا لري، خو اروپا او استرليا يوازي، هغه مهاجرو او پنا غوښتونکو ته ويزه ورکوي، چي دکار لپاره ستندرد او لازم مهارتونه ولري، لکه داکتر، انجنير، د معلوماتي تکنالوژی مختصص او نور يعني دوی غواړي چي صرف د لوړ کيفيت لرونکي بهرنيان قبول کړي.

### پاسپورټ Passport

هغه سند دی چي د هغه په لرلو سره يوڅوک کولای شي چي له يو هېواد څخه بل ته ولاړ شي، له بلي خوا د پاسپورټ لرونکي شخص پيژندنه هم کوي اودا څرګندوي چي ايا د پاسپورټ لرونکی د کوم هېواد تابيعت لري، هر سوداګر يا بل هر مسافر د دي حق لري چي هغه هېواد ته بېرته راستون شي چي د هغه پاسپورټ لري، پاسپورټ په ګڼ شمېر هېوادونو کي په رسميت پيژندل شوی دی، او داسي يوسند او مدرک دی، چي د پاسپورټ لرونکی خپل مليت او د تابيعت لرونکی هېواد پوري تړي.

### د بېرته منلو موافقه ليکReadmission agreement

کله چي يو هېواد تصميم ونيسي چي مهاجر يوه بل هېواد ته واستوي ، نو دتصميم نيوونکي هېواد بايد له هغه بل هېواد سره چي د غه مهاجر ور استوي، يو تړون لاسليک کړي. د بېلګي په توګه که دوی افغانستان سره داسي يو تړون ونه لري، معمولاً افغانستان نورو هېوادو ته دا اجازه ورکوي، چي مهاجر افغانان بېرته افغانستان ته راواستوي، ان دا چي که يو افغان په دغه بل هېواد کي زېږېدلی هم وي او همالته ستر شوی وي، لکه په ايران او پاکستان کي، دوی افغانستان ته بېرته را استول کېدای شي. يو شمېر نور هېوادونه کولای شي چي افغانان بېرته هغه هېواد ته ورستانه کړي چي له هغه څخه دوی دغه دريېم هېواد ته تللي دي، د بېلګي په توګه يو شمېر افغانان له يو نان او ايتاليا څخه بېرته ترکيي ته واستول شول.

**Refugee** يا بې کوره مهاجر هغه څوک دی چي په زور سره له خپل هېواد څخه ايستل شوی وي، يا هم د ځانګړو شرايطو له مخي اړ شوی وي، چي له خپل هېواد څخه ووځي، يوه نړيوال قانون له شپيتو کالو څخه را په دي خوا د بې کوره مهاجر

(اواره) یو تعریف کی دی، چي دهغه په ترڅ کي يي اواره اوبي کوره مهاجر بنودلي دي، دغه قانون ته د جينوا له کنوانسيون وايي، د نړی ۱۹٤ هېوادونو هغه لاسليک کړی دی. بی کوره هم بايد پوره اسناد او شواهد ولري چي په رښتيا هم ګواښ سره مخامخ دي، دا کافي نه ده چي ووايي ګواښ سره مخامخ دي يا تر تعقيب لاندي دي يا له داسي هېواد څخه راغلي چي جګړه پکي ده يا په دي هېواد کي وضعيت خطرناک دی.

یو شمېر هغو هېوادونو چي دغه تړون نه دی لاسليک کړی هم مهاجر مني، ايران، ماليزيا او ترکيي دغه قانون نه دی لاسليک کړی، که چېرې کوم هېواد د مهاجرينو لپاره کوم قانون ونه لري، نو دوی کولای شي چي نړيوالو بنستونو ته اجازه ورکړي.

Resettlement **بېرته مېشت کول** : کله چي د مهاجرت عامل رفع شي او مهاجر بيرته خپل اصلی ټاټوبي ته ستون شی او د یوه مرستندويه پروګرام له مخي ورسره مرسته هم وشي، دی ته بيرته ميشت کول وايي.

### Residence permit د اوسېدلو جواز

د اوسېدلو لپاره بېلابېل جوازونه شته ، مهاجر ځان سره داسي اسناد لري، چي د مهاجر منونکو هېوادونو له خوا دوی ته ورکړل شوي دي. کوربه هېواد د دغو اسنادو په ورکولو سره دوی ته اجازه ورکوي چي د دوی په هېواد کي واوسېږي، داوسېدو پاني ممکن د دریيو مياشتو لپاره وي يا هم ممکن دنا محدودو وخت لپاره وي، د دې معنا داده چي مهاجر هلته ارام نشي اوسېدای او بيرته ستنيدو ته بايد چمتو شي، دوی يوازي په یوه ښار کي اوسېدلای شي، نورو ښاروونو ته د تګ لپاره بايد له پوليسو څخه اجازه ترلاسه کړي. که يو څوک د اوږدي مودي اجازه ليک لري(پنځه، لس يا له هغه زيا کلونو) نو دوی زيات شمېر حقوق او ازادي لري.

### Smuggler (people ) دانسان قاچاقچي

د مهاجرتونو اوسني بهير کي نوي پيدا شوي اصطلاح ده. دا هغه کسان دي چي د پيسو په اخيستلو سره هغو کسانو سره مرسته کوي چي غواړي چي له یوه هېواد څخه نورو هېوادو ته ولاړ شي. دوی ډېری پيسي غواړي، دا ځکه چي دوی قانون تر پښولاندي کوي. دوی وګړي پرته له قانوني اسنادو د هېوادونو له پولو تېروي، ځيني وخت جعلي پاسپورتونه ورته جوړوي، ځيني وخت سم او قانوني اسناد له سره جوړوي او لاس پکي وهي. زياتره هغه خلک چي له قاچاقبرانو مرسته غواړي هيله لري چي د مهاجرت اسناد پيدا او داسي ځايونو ته ولاړ شي چي ژونديي ښه شي. په دوی کي يو شمېر خپلو هيلو ته رسېږي، خو ممکن ځو کاله وروسته بېرته راوشړل شي، يا هم ممکن کلونه کلونه پرته له اجازه ليک څخه ژوند وکړي. يو شمېر نور ممکن له ډېر لګښت سره سره بيا هم خپلو هيلو ته ونه رسيږي، او زياتره دوی د قاچاقبرو له یوه لاس څخه بل ته او له بل څخه بل ته په خطرناک ډول استول کيږي.

### people Traffic ker سړي تېښتونکي

دا اصطلاح هم د دغو وروسيتو کلونو زيږنده ده، دا هغه قاچاقبران دي چي خلک تښتوي . زياتره وختونه دوی خلک وهي ټکوي او له کورنيو سره يي اړيکي نيسي او پيسي ورڅخه غواړي، سړي تښتونکي زياتره نجوني، هلکان او ښځي په بدو خلکو پلوريی، په خلکو باندي په زور کار کوي، دا د نا مشروع عوايدو سرچينه پېژندل شوي چي نړيوال پوليس يي په کلکه تعقيبوي.

### Visa ويزه

هغه مُهر شوی کاغذ دی چي د پاسپورت په یوه پاڼه باندي لګول کيږي. دغه مهر او کاغذ معمولاً د یوه ټاکلي وخت لپاره اعتبار لري ( له څو ساعتونو څخه تر یوه کال پورې ) د بېلګي په توګه ممکن دغه مُهر يو چاته اجازه ورکړي چي يوه مياشت يوه هېواد کي ميشت شي، خو تر دريو مياشتو پورې یوه بل دريیم هېواد ته د رسېدو پوری استفاده کولای شي. د بېلګي په توګه

ممکن دغه مُهر یو چاته اجازه ورکړي چې یوه میاشت  یوه هېواد کې میشت شي، خو تر درېو میاشتو پورې یوه بل درېیم هېواد ته د رسېدو پورې استفاده ورڅخه کولای شي،  ممکن یوه ویزه د یو څو ساعتونو لپاره اعتبار ولري، ( مثلاً د هغه چا لپاره چې غواړي له یوه هېواد څخه بل ته ددغې مودې په ترڅ کې تېر شي)  ځینې ویزې د یو ځل د خولې لپاره وي، یعنې کله چې یو څوک یو ځل  په دغه ویزه  یوه هېواد ته داخل شو اوبیا بېرته ووت، نو د بل ځل لپاره نشي کولای چې بیا په همدغه ویزه ورشي،  سره له دې که د ویزې  د پوره کېدو لپاره څو ورځې  پاتې هم وي، ځینې ویزې د څو څو ځله تګ راتګ لپاره وي، یعنې تر هغو چې ویزه اعتبار لري، د هغه لرونکی وربانده مربوطه هېواد ته تګ راتګ  کولای شي. د بېلګې په توګه  د محصلانو او زده کوونکو لپاره ویزه چې د تحصیل د یوې ټاکلې دورې لپاره وي او په دغه موده  کې دغه محصل ور څخه استفاده کوي،. که یو څوک تحصیلي ویزه واخلي کولای شي ډېر وخت یوه هېواد کې پاتې شي او هلته  کار هم کولای شي، خوپه اونۍ کې یوازې شل ساعتونه د کار اجازه لري، نه اضافه . ځئنې هېوادو کې چې کله د محصل د درس دوره پای ته رسېږي،  نو د کار لپاره هم ویزه اخیستلای شي. سیاحتي ویزې له یوې میاشتي نیولې تر درې میاشتو پورې وي،  د سیاحتي ویزې  د اخیستو لپاره باید د اوسېدو لپاره پوره اندازه یسې موجودې  وي  اودا هم باید ثابته شي چې وروسته له سیاحت څخه له نوموړي هېواد څخه بېرته خپل هېواد ته ستنیږي، نو ځکه باید د دې خبرې د ثبوت لپاره  وښودل شي چې د نوموړي کور په خپل هېواد کې دی او هلته ښه کاروبار  ا وکورنۍ لري، نو ځکه له سیاحت  څخه وروسته بېرته ور ګرځي او بل هېواد کې د پاتې کېدو لپاره کومه اړتیا نه لري. د تحصیلاتو لرونکو او متخصصو او سوداګرو لپاره هم جلا ویزه شته ، ددغه ډول کسانو دکورنۍ غړي هم کولای شي د ویزې غوښتنه وکړي،  خو د ډېر لګښت  غوښتنه کوي،  دغه ډول خلک  ممکن بېرته خپل هېواد ته راستانه  نه شي.   ویزه د پناه اخیستونکو لپاره نه ده ، هغه کسان چې غواړي چې دپناه اخیستونکو لپاره غوښتنلیک ورکړي باید د مهاجرو په کمپونو کې پاتې شي یا هم پرته له ویزې ، یا په جعلي ویزې د پام وړ  هېواد ته ورشي یا به ځان د ګرځندوی او محصل په توګه دغه هېواد ته رسوي، که چېرې دغه هېواد ته له ورتګ سره سم د پناه اخیستو غوښتنلیک  ورکړل شی، نو ممکن ومنل شي. که ویزه کې لاسوهنه وشي اوپولیس ورته متوجه شي، نو له هوایي ډګر یا د هېواد له پولو څخه بېرته راستنول کیږي، یا ممکن زندان ته واستول شي.

### Work permit د کار جواز

داسې یوه پاڼه ده چې یو چاته په یوه هېواد کې د کار کولو اجازه ورکوي، د کار د جواز په لرلو سره یو څوک د پوره حقوقو  او امتیازاتو لرونکی پېژندل کیږي، په اسانه د یوه کار دترسره کولو  قرارداد کولای شي او حکومت  یې له دغه کار اوعاید  څخه مالیه اخلي، خو که دغه کار کوونکي ژوبل یا ناروغ شي، نو بیمه هم لري. پرمختللو هیوادو کې درسمي کار لرونکي دتقاعد پرمهال خپل د تقاعدي امتیازهم اخلي، که څوک پوره پیسې ونه لري حکومت  له دغو مالیاتو څخه دهغه لپاره دده د کور کرایه هم ورکوي او څه د اړتیا وړمرستې هم ورسره کوي، خو په مجموع کې له خپل پلرنی او اصلی ټاټوبی څخه لرې کیدل لویه اجتماعی او روانی ستونزه ده. دپورته ټولو شرایطو برابرول او پردي وطن کې دمهاجر په توګه منل کیدل اوږده او له منتونو او محنتونو ډکه پروسه ده.
د ځینو ارقامو له مخې افغانستان همدا اوس د دونیم میلیونو شاوخوا خارجی او د دوه میلیونو شاوخوا کورنی مهاجر او بی کوره وګړي لري. دغه ارقام د عراق او سوریې وضعیت ته نږدې حالت بیانوي. له کورنیو جنګونو مخکې افغانانو مهاجرت ته  زړه نه ښه کاو  او نه یې د مهاجرت مجبوریت درلود. افغانستان هغه مهال خپلو اتباعو او دنړۍ ډیرو نورو خلکو ته ترټولو غوره هیواد و، آن هغو متخصصو او د لوړو زده کړولرونکو ته هم خپل وطن کی کار او اوسیدل ډیر غوره بریښیدل چې بهر کی ورته  دمنل کیدو چانس زښت زیات و، خو موږ داسې ډیر کم کسان پیژنو  چې له کورنیو جګړو مخکې مهاجر شوی وي. اروپاییانو به کابل ته د آسیا پاریس ویل. هغه وخت د افغانستان بیرغ داسې هسک رپید چې نړیوالو ورته په تعظیم سر ټیټاو. افغانستان د هر افغان ګډ کور و.  دُعا به کوو چې افغانستان له جاري ستونزو بریالی راووځي او هر افغان بیرته خپل کور ته راشی.

خپل وطن، ګل وطن
هرچا ته خپل وطن کشمیر دی.

تذکر: هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این نویسنده را مطالعه کنند، می توانند با اجرای "کلیک" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به فهرست "آرشیف" شان رهنمائی شوند!

به مناسبت روز جهانی مهاجرت
b_doodial_ba_monasebat_roz_jahani_mahadjerat.pdf